

Monthly Logar

میاشتنی خپرونه

لوګر

ماهنامه

چهارشنبه د۱۳۹۹ کال د سلواغې میاشتې لومړی، د ۲۰۲۱ عیسوي کال د جنوري شلمه ۴ پرله پسې ګڼه (۱۱۹) لومړی کال، نهمه ګڼه


## اطلاعاتواوفرهنګ ریاست کې د بیان او خبرو د فن مهارتونو د زده کړې پروګرام پای ته ورسېد






د بیان او فن د خبرو د اصولو د زده کړې پروګرام چې د لوګر د اطلاعاتواو فرهنګ ریاست په زیار او د سولې غوښتونکو ځوانانو د بنسټ په همکاری، ۱۵۰تنو ځوانانو ته پیل شوي ؤ، دمرغومي په ۱۷ مه پای ته ورسېد.

هغه غونډه چې په همدې موخه د اطلاعاتواوفرهنګ ریاست انګړ کې جوړه شوې وه، د اطلاعاتواوفرهنګ رییس عبدالرحمن تسل په ګډون؛ د سولې غوښتونکو ځوانانو د بنسټ مشر مېلاد عمر، د اطلاعاتو اوفرهنګ ریاست کارکوونکي او د ورکشاپ ګډونوالو برخه درلوده.

د لوګر ولایت د اطلاعاتو او فرهنګ رییس عبدالرحمن تسل په خپلو خبرو کې لوګریو ځوانانو ته ژمنه ورکړه، چې د ورته فرصتونو په چمتوالي کې به خپلې هڅې نورې هم ګړندۍ کړي. تسل زیاته کړه، د یو آباد وطن لپاره اړینه ده، چې ځوانان مو په عصري وړتیاوو او مهارتونو باندې سمبال شي او په دې برخه کې لوګر اطلاعاتو او فرهنګ ریاست هر ډول مرستې ته چمتو دی.

تسل وویل، چې په دې روزنیز پروګرام کې ۱۵۰ ځوانانو برخه اخیستې وه او درې اوونۍ د بیان د فن او خبرو په برخو کې زده کړې ورکړل شوې. د تسل په خبره، له ویناوالۍ سره د ځوانانو د ځانګړې مینې په اساس یې دا ګام پورته کړی ؤ، چې خوشبختانه له تمعې ډیرو ځوانانو په کې برخه واخیسته. د دغه پروګرام یوتن ګډون کوونکي خلیل الرحمن لودین د ورته پروګرامونو په لاراچوونه اغیزمن وباله او ویې ویل، د بیان فن یې په عملي او نظري ډول زده کړې او زیاته یې کړه، چې په ورځنیو چارو کې به ورنه ګټه پورته کړي. د پروګرام په پای کې فارغانو ته تصدیق لیکونه ورکړل شول.

د یادونې وړ دی، چې تیر کال هم ورته ښوونیز پروګرام د لوګر د اطلاعاتو او فرهنګ ریاست لخوا ځوانانو ته په لاره اچول شوی ؤ.

## دوصد وچهل تن ازمرکز آموزشی فنی وحرفوی سندفراغت بدست آوردند

دوصدو چهل تن ازمرکز آموزشی فنی وحرفوی لوگر با فراگیری آموزش شش ماهه سند فراغت بدست آوردند وازدولت می خواهند که زمینه کار را برای آنان فراهم نمایند.

شاه محمد ولی زوی رییس کارامور اجتماعی می گوید که برای دوصد و چهل تن مشمول نود تن خانم ها مدت شش ماه درمرکزفنی وحرفوی دربخش های انجنیری ، خیاطی، نجاری، موبایل سازی، برق، فلز کاری وپروسس لبنیات آموزش داده شده است.

آقای ولی زوی افزود که این پنجمین دورفارغان مرکزیاد شده می باشد که هشتاد درصد فارغین دوره های گذشته اکنون مصروف کار میباشند و تاحال از این مرکز در حدود پانزده صد تن فارغ شده اند.

محمد اجمل شاه پور والی لوگر دربرنامه که بدین مناسبت دایرگردیده بود به فارغان این مرکز وعده داد که درقسمت کاریابی آنان تلاش خواهد کرد و درشهرپل علم برای آنها زمینه کار را فراهم خواهد نمود و گفت که باید بجای جنگ و برداشتن سلاح، زمینه سازی گردد تا مردم با پیشه کردن کسب وحرفه شان امرار معیشت نمایند وی افزود که جنگ سبب فقر می گردد.



خلیل الرحمن یکتن از اشتراک کننده گان برنامه آموزشی یاد شده، خاطر نشان ساخت که راه اندازی همچون پروگرام ها حرفوی وفنی در بهبود وضعیت اقتصادی خانواده ها نقش اساسی دارد وی بر افزایش مراکز آموزشی فنی وحرفوی تاکید کرد .

قابل یاد آوری است که سال پار نیز بیش از دوصد تن در مرکز آموزشی فنی وحرفوی شهر پل علم در بخش های مختلف مدت شش ماه آموزش دیدند.

## روندتوزیع نمرات رهایشی برای معلمان درمرکزلوگرادامه دارد

درادامه توزیع نمرات رهایشی برای معلمان درمرکز لوگر، به دوصدوپنجاه معلم نیز نمرات رهایشی توزیع گردید.

اکثرمعلمان درمرکز لوگر می گویند که اگر تمام حقوق وامتیازات آنان دراوقات معین پرداخته شود باعث تسکین روحی و آرامش آنان می گردد و می توانند به شکل بهتر برای فرزندان کشور آموزش دهند.

شاهپور عرب سخنگوی ریاست معارف لوگر می گوید که شهرک معلمین درمرکز لوگر سه صدو پنجاه جریب مساحت دارد که در قسمت شمال غرب شهر پل علم درمنطقه شیردروازه موقعیت دارد که دراین شهرک تمام سهولت ها مشمول کلینیک، مکتب، مسجد، سرک وساحات تفریحی درنظرگرفته شده است، وی علاوه کرد که طی این روند به نو صدونود هفت تن معلمین مرکز لوگر نمرات رهایشی توزیع میشود که تا اکنون به 750 تن توزیع شده است. شماری ازاستادان در مرکز لوگر ضمن اظهارخرسندی خاطرنشان ساختند که با صداقت کامل برای تربیه فرزندان کشورسعی می نمایند.

قابل یاد آوری است که درسال های قبل شهرک معلمین درولسوالی های بره کی برک، خوشی ومحمدآغه نیزگشایش یافته است .



## اساسي قانون د تاریخ په اوږدو کې

لیکنه: عبدالرحمن «تسل»



افغانستان تر دې مهاله نږدې لس اساسي قانونه لري خو هغه قوانین چې د لویو جرګو له خوا تصویب شوي د نورو هغو په پرتله مشهور او ډیر پیژندل شوي .

د هیواد په تاریخ کې د لومړي ځل لپاره په کال ۱۳۰۱ هجري لمریز د شاه غازي امان الله خان د سلطنت پر مهال د نظامنامې په نوم قانون خپور شو، دا قانون د مشرقي لویې جرګې لخوا د ۸۷۲ غړو په شتون کې تصویب شو .

دې نظامنامې ۷۳ مادې لرلې او له لومړي تصویب څخه دوه کاله وروسته په ۱۳۰۳ هجري لمریز کال کې بیاځلې په پغمان کې د لویې جرګې لخوا د ۱۰۰۰ په شا او خوا کې استازو لخوا تصویب شو .

اوه کاله وروسته د نادرخان د واکمنۍ پر مهال د هیواد دوهم اساسي قانون ( د دولت علیه اساسي اصول) تر عنوان لاندې د ۱۱۰ مادو په ترڅ کې رامنځ ته شو .

د افغانستان بل قانون د اعلیحضرت محمد ظاهر شاه په واکمني کې د ۱۳۴۳ کال د سنبلې میاشتې په ۲۹ مه د ۱۱ فصلونو او ۱۲۸ مادو په ترڅ کې توشیح شو .

د سردار محمد داود خان د جمهوري ریاست له پیل سره سم د افغانستان تازه اساسي قانون د ۱۳ فصلونو او ۱۳۶ مادو په ترڅ کې رامنځ ته شو او د همدې کال د دلوې په میاشت کې د لویې جرګې له خوا تصویب شو .

د سردادر محمد داود خان د جمهوریت له سقوط څخه وروسته د ببرک کارمل په دوران کې افغانستان د دیموکراتیک جمهوري دولت د اصولو تر عنوان لاندې قانون رامنځ ته کړ د ۱۳۵۹ کال د حمل په میاشت کې د۶۸ مادو په لرلو سره تصویب شو او د اجرا وړ وګرځید .

۷ کاله وروسته د ډاکټر نجیب الله د واکمنۍ پرمهال بل قانون په ۱۳ فصلونو او ۱۳۹ مادو کې رامنځ ته شو او د همدغه کال د قوس په میاشت کې د لویې جرګې له خوا تصویب شو، دغه قانون درې کاله وروسته له تعدیلاتو سره مخامخ شو .

د مجاهدینو او طالبانو په دوره کې افغانستان اساسي قانون نه درلود او د طالبانو له ماتې او شکست څخه وروسته په کال ۱۳۸۲ کې د افغانستان د انتقالي دولت جمهور رییس حامد کرزي د واکمنۍ پر مهال د افغانستان اوسنی اساسي قانون چمتو شو او د همدغه کال د جدې میاشتې په ۱۴ نیټه د لویې جرګې له خوا په ۱۲ فصلونو او ۱۶۲ مادو کې تصویب شو.

د افغانستان اسلامي جمهوري دولت اوسنی اساسي قانون د افغانستان په کچه عالي ترین حقوقي سند دی، د همدې قانون په اساس درې ګونې قوې را منځ ته شوې، ستره محکمه را منځ ته شوه، وګړو ته حقوق او وجایب تعین شول، وګړی د قانون په رڼا کې ادعا کوي او خپل حقوق تر لاسه کوي .

په نړۍ کې د ټولو هیوادونو اساسي قانونونه د نظم او د نورو قانونونه عملي کولو لپاره زمینه برابرونکي وي چې خوشبختانه د افغانستان اساسي قانون هم د نړۍ په کچه داسې قانون دی، چې تر چتر لاندې یې نور ډیر قانونه د عملي کیدو په درشل کې دي .

د افغانستان اساسي قانون د اسلام په چوکاټ کې رامنځ ته شوئ او ټولې چارې یې په اسلامي اصولو را چورلي . فعلي اساسي قانون د نورو اساسي قوانینو په نسبت کامل ، جامع ، او مډرن ګڼل کیږي، په مو جوده اساسي قانون کې د قدرت او ازادی ترمنځ ، د دولت او اقتدار او صلاحیت ترمنځ توازن ایجاد شوی او دبلې خوا څخه نسبت نورو اساسي قوانینو ته د هېواد د اتباعو اساسي حقوق او ازادیو اړوند ښه احکام لري .

## وحدت از دیدگاه قرآن !

قرآن به اهمیت مسله وحدت و اتحاد بسیار تاکید کرده وبرای ایجاد وحفظ این یگانگی در امت، راهکارهای گوناگونی را ارایه کرده است در این کتاب وحی آیات زیادی رامیتوان یافت که در آن ها به مساله وحدت اشاره شده است.

همچنان در آیاتی اشاره می کند که تمام پیروزی ها وموفقیت ها در محور وحدت بوده است. بنابر اعتراف تمام تاریخ نویسان و دانشمندان ، حفظ وحدت در صدر اسلام موجب انسجام وفشردگی مسلمانان بوده است، آنها در پرتو همین همدلی وهماهنگی توانستند برخیل دشمنان مختلف فایق آینده و به امتیازات فوق العاده دست پازند ، چرا که قرآن کریم به آن ها فرموده بود. ترجمه: همگی به ریسمان خدا(ج) قرآن و اسلام و هرگونه وسیله رحمت چنگ زنید و پراگنده نشوید ونعمت خدا(ج) را برخود به یاد آورید که چگونه دشمن یکدیگر بودید ، و اومیان شما الفت ایجاد کرد وبه برکت نعمت او برادر شدید . آل عمران 103.

قرآن کریم به تفرقه و اختلاف را در ردیف عذاب های آسمانی عنوان کرده ومی فرماید. ترجمه: بگو خداوند(ج) قادر است که از بالا یا از زیر پای شما، عذابی، طعم جنگ (اختلاف) را به هریک ازشما به وسیله دیگری بچشاند. انعام 65.

قرآن به تفرقه افگنان هشدار داده وآنها را جدا از اسلام و دشمن مسلمانان معرفی کرده و با قاطعیت می فرماید. ترجمه: از مشرکین نباشید ، از کسانی که دین خود را پراگنده ساختند وبه دسته ها وگروها تقسیم شدند. انعام 159)

درسوره حجرات می خوانیم. ترجمه: ای مردم ! ما شما را از مردی و زنی آفریدیم وشما را به تیره های وقبایل قرار دادیم تا همدیگر را درک کنید و زندگی هماهنگ داشته باشید با فضیلت ترین شما نزد خداوند(ج) با تقوا ترین شما ست. حجرات 13. دربن آیه تاکید ویژه ای بر وحدت قبایل وگروهای انسان ها وجود داشته است. بشر تشنه آزادی، عدالت و حق است، که اسلام با دعوت به اتحاد توانسته است به این خواسته های پاسخ تمسک به آیات قرآن کریم یک هدیه و میراث گرانبهایی است که درقرآن کریم به آن تاکید شده است.

بنا برین با درنظرداشت نصوص شرعی ازهمه مردم، گروه ها ، احزاب سیاسی وسایر گروپ های مسلح مخالف خواست میشود اگر مسلمان وبه عقاید اسلامی باورمند اند از بی اتفاقی و دامن زده به تعصبات قومی، مذهبی، لسانی و سمتی اجتناب نموده ، جهت قطع جنگ و خونریزی در کشور به فرموده خداوند(ج) چنگ زده و کشور را به طرف صلح وثبات سوق داده تا ما هم مانند سایر کشور های جهان در فضای صلح زندگی خویش را سپری نمایم.

ترتیب کننده: ابوبکر

### داساسي قانون اته دېرشمه ماده :

د شخص استوګنځی له تېرې څخه خوندي دی. هېڅوک د دولت په ګډون نشي کولای د استوګن له اجازې یا د واکمنې محکمې له قرار پرته او بې له هغو حالاتو او لارو چې په قانون کې ښوول شوي، د چا کور ته ورننوزي یا یې وپلټي .

د څرګند جرم په مورد کې مسئول مامور کولای شي د محکمې له مخکینۍ اجازې پرته د شخص کورته ورننوزي یا هغه وپلټي.نوموړی مامور مکلف دی کور ته له ننوتو یا پلټنې وروسته، په هغه موده کې چې قانون یې ټاکي د محکمې قرار ترلاسه کړي .

داساسي قانون د تصویب د اونۍ په ویاړ؛


د امتیاز خاوند: لوګر اطلاعاتواوفرهنګ ریاست لوګر Logar

مسؤل مدیر : شیرمحمد «امیني» ستانکزی ۰۷۰۵۱۰۶۶۲۸

کتونکي ډله : عبدالرحمن «تسل» ، امین الله «صفا» او محمد زاهد «سلطاني»

خبریال : محمد موسی «عدیل»

ډیزاینر : امینی «ستانکزی»

فیسبوک پاڼې: دلوګرداطلاعاتواوفرهنګ ریاست/www.facebook.com

لوګرمیاشتنۍ/ www.facebook.com

یادونه : لوګرمیاشتنۍ خپرونه دسرلیکنې پرته؛ دلیکوالانو دلیکنو ننګه نه کوي اومسؤلیت یې دلیکوال پرغاړه ده .

که چیرې لیکنې لرئ چې په لوګرمیاشتنۍ کې خپرې شي، نو کولی شي چې په لاندې پته یې را واستوئ.

داړیکې شمیره : ۰۷۴۴۴۲۶۴۲۸

دبرښنالیک پته : Shir.stanikzai2@gmail.com

چاپ ځای : آزادي مطبعه